

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
آبادي اوونیزه
هفته نامه آبادی
گڼه: ۱۲ | مسلسل نمبر: ۵۵
سه شنبه، د ذوالحجې ۲۶مه، ۱۴۴۵ هـ. ق کال




## سرلیکنه

د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغانستان په اړه درېیمه غونډه د روان لمریز کال د چنګاښ په لسمه او یوولسمه جوړه شوې وه. په دې غونډه کې د اسلامي امارت مرکزي ویاند ذبیح الله مجاهد په مشرۍ د شپږ کسیز پلاوي ترڅنګ د شا و خوا ۳۰ هېوادونو او نړیوالو سازمانونو استازو ګډون کړی وو. په غونډه کې له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې د همغږۍ او منظمې همکارۍ، پر افغانستان د یو اړخیزو او څو اړخیزو بندیزونو لرې کولو، سوداګرۍ، بانکوالۍ او د مخدره موادو پر ضد د مبارزې په اړه بحثونه وشول.

په دې غونډه کې د بحث وړ نورو موضوعاتو ترڅنګ پر یو لړ اقتصادي موضوعاتو هم بحث وشو. اسلامي امارت نه یوازې د دوحې درېیمه غونډه، بلکې له دې وړاندې هم په نړیوالو سټېجونو له نړۍ سره د مثبت تعامل غږ اوچت کړی دی، خو نړۍ ددې پرځای چې د اسلامي امارت غږ ته لبیک ووایي، تعامل ته رامخته شي، تقابل ته یې مخه کړې ده. نړیوال ددې خبرې د توجیه لپاره وایي چې اسلامي امارت د دوی غوښتنې نه دي منلې. د نړۍ ټول دولتونه یو ډول پالیسي نه لري، ددې پالیسو د توپیر ستر لامل د هېوادونو دیني او ملي ارزښتونه دي. دا باید ددې باعث نه شي، چې دولتونه د تعامل پر ځای تقابل ته مخه کړي، هر څه حل لاره لري، خو که دولتونه د یو بل ارزښتونو ته درناوی وکړي. د پالیسو توپیر باید په هېڅ ډول ددې لامل ونه ګرځي چې ځینې هېوادونه دې د سیاسي او اقتصادي فشار ابزار په داسې ډول وکاروي چې نور هېوادونه او ملتونه متاثر کړي. د افغانستان پر بانکي سیستم بندیزونه د همدې ډول فشارونو یوه برخه ده. په افغانستان کې دې ډول بندیزونو نه یوازې سوداګري زیانمنه کړې، بلکې خصوصي سکټور یې هم له ننګونو سره مخ کړی دی.

د امیرالمؤمنین شیخ الحدیث والقران مولوي هبة الله اخوندزاده حفظه الله له فرمان سره سم په ټول هېواد کې د نشه یي توکو کرکېله بنده شوې. نه یې چاته د کر اجازه شته او نه یې څوک قاچاق کولی شي. دا مهال په افغانستان کې د نشه یي توکو کرکېله صفر ته راټیټه شوې ده. د نشه یي توکو د کرکېلې بندېدل، د نړیوالو یوه غوښتنه هم وه، خو چې بند شوه، بیا یې د افغان بزګرانو له پاره د بدیل کښت په برخه کې غوږونه کاڼه واچول.

خو دا چې د دوحې په درېیمه غونډه کې د لویدیځو هېوادونو په ګډون د یو شمېر هېوادونو استازو د افغانستان د کنګل شویو پیسو د ازادېدو، د افغانستان پر بانکي سیستم د بندیزونو د لرې کېدو ترڅنګ ځینې هېوادونو له افغانستان سره د خپلې سوداګرۍ پراختیا په اړه ډاډ څرګند کړی دی، دا ددې ښکارندویي کوي چې نړۍ د تقابل پر ځای د تعامل لاره غوره کوي او دې پایلې ته رسېدلي دي چې اوسمهال په افغانستان کې یو قوي او مرکزي حکومت شته او باید تعامل ورسره وشي. د نړۍ دا ډول سیاست غوره کولو سره به د نړۍ یو شمېر هېوادونه د زورواکۍ او پر نورو د خپلو خبرو او شرطونو منلو ته شا او مثبت او پر دوه اړخیز درناوي ولاړ تعامل ته به مخه کړي. ددې کار په ترسره کېدو سره به له یوه لوري پر ملتونو بې ځایه فشارونه پای ومومي، اقتصادي وده به یې ګړندۍ او له بل لوري به په نړۍ کې د واقعي سیاسي ډیپلوماسۍ د پرمخ بېولو له پاره لار هواره شي.

### محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل ولایت د ارغندي سبسټېشن د پاټي چارو د پیل پرانیسته وکړه



۱ صفحه

### د جنوبي افریقا یوشمېر پانګوالو، علماوو او د روغتیا برخې متخصصینو د ریاست الوزراء له اقتصادي مرستیال سره وکتل



۲ مه صفحه

### د دوحې درېیمه غونډه؛ ارزښت او په‌کې شویو پرمختګونو ته کتنه




۳ مه صفحه





# محتـــرم مـــلا عبدالغني برادر اخوند د کابل ولایت د ارغنـــدی سب‌سټېشـــن د پاټې چارو د پیل پرانیسته‌وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د چنګاښ میاشـــتې په اوومه نېټه د ارغندی سب سټېشن د پاټې چارو د پیل پرانیســـته وشوه. په هغو مراسمو کې چې له همدې امله د کابل په ارغندی سیمه کې جوړ شوي وو، د اسلامي امارت مســـوولینو، د خصوصي سکتور استازو او د سیمې یوشمیر اوسېدونکو هم ګډون کړی و.

د یادونې وړ ده، چې دا سب سټېشن د بغلان له خواجه الوان دبښـــتي څخه د کابل تر ارغندی ســـیمې پورې د ترکمنستان بریښنـــا د لېږد له پاره جوړېږي، چې لګښت یې اته میلیونه او شـــپږ سوه زره ډالره اټکل شوی دی. د پروژې کارونه به د شاوخوا دوه کلونو په جریان کې بشپړ شي، چې د کابل په ګډون به د غزني، پکتیا، خوست او ننګرهار ولایتونو شـــاوخوا څلور سوه زره کورنۍ له بریښنا څخه برخمنې شي. دغه راز د بریښنا د کمښت ستونزه به تـــر یوه بریده راکمه او ورسره بـــه د صنعت په برخه کې پرمختګ رامنځته شي.

# گزارش ربع‌وار ارزیابی و تحلیـــل نظریات مردم پیرامون فعالیت ها و کارکرد های معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء نشر گردید

معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء گزارش تحلیلی زیر عنوان «فعالیت های معاونیت اقتصـــادی و نظریات مردم» درباره فعالیت های انجام شده از اول حمل تا ۳۱ام جوزا سال جاری خورشـــیدی تهیه و منتشر نموده است. هدف از این گزارش انعکاس دیدگاه های مردم و توجه به آن است.

در این گزارش تحلیلی «امضاء قرارداد چهار پروژه به ارزش چهار میلیارد افغانی، آغـــاز کار سرک هرات- غور، آغاز کار عملی بند پاشـــدان، افتتاح ســـه پروژه مهم به ارزش یک میلیارد افغانی، منظور شـــدن ۱۴ پـــروژه مختلف به ارزش چهار میلیـــارد افغانی، افتتاح صندوق حمایت از ســـکتور خصوصی، افتتاح کارخانه های مختلف در سکتور صنعت، راه اندازی نمایشگاه ها برای بازاریابی محصولات زراعتی» و بعضی موضوعات مشابه به آن انعکاس داده شده است.

این همـــه موضوعاتی اند، که معاونیت اقتصادی ریاســـت الوزراء به هدف رشد و توســـعه اقتصادی و همچنان جهت بازســـازی کشور در نظر گرفته اســـت که شماری آن عملی گردیده و جهت عملی شدن برخی دیگر آن تعهد قوی دارد.

پیرامون موضوعات یاد شـــده شـــهروندان در رسانه های دولتی و خصوصـــی و همچنان در شـــبکه های اجتماعی نظریات خود را شریک ساخته و معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء نظریات ایشـــان را با در نظرداشت معیارهای علمی تحلیل و ارزیابی نموده است.

در مورد مسایل ذکر شده نظریات شهروندان بر مثبت، منفی و پیشنهادات منقسم گردیده، مجموعهٔ نظریات مثبت، منفی و پیشنهادات شهروندان به ۱۵۴۳۳ میرسد، که از این جمله ۱۴۲۸۹ مثبت می باشـــد که فیصدی مجموعی آن به ۹۲,۵ بالغ می گردد، تعداد نظریات منفی ۸۵۲ اســـت که فیصدی مجموعی آن ۵,٦فیصد را نشان میدهد، به همین شکل شمار پیشنهادات ۲۹۲ می باشد، که تعداد مجموعی آن ۱,۹ فیصد را نشان میدهد.

نتیجه تحلیل و ارزیابی نظریات شـــهروندان مبین آن است که هموطنان از امور انجام شده امارت اسلامی افغانستان در عرصه اقتصادی خرسند اند و خواستار تطبیق چنین پلان ها در آینده می باشند.



# د جنوبي افريقا يوشــمېر پانګوالــو، علماوو او د روغتيا برخې متخصصينو د رياست الوزراء له اقتصادي مرستيال سره وکتل

د جنــوبي افريقا يوشــمېر پانګوالو، علــماوو او د روغتيا برخــې متخصصينو د روان ۱۴۰۳ لمريــز کال د سرطان مياشتې په څلورمه نېټه د رياست‌الوزراء له اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره وکتل. د دغه ليدنې پر مهال د جنوبي افريقا پانګوالو په افغانستان کې د پانګونې په برخه کې له رامنځته شوو فرصتونو څخه په استفادې د کانونو په ســکتور کې پانګونې ته لېوالتيا ښــوده او زياتــه يې کړه، چــې دوی بــه د پرمختللې ټکنالوژۍ په مرسته کانونه استخراج او پروسس کړي.



همــدا راز د دغه هېواد د روغتيا برخې متخصصينو وويل، دوی د افغانستان له عامې روغتيا وزارت سره په همغږۍ غواړي چې په افغانستان کې د روغتيا سکټور د ملاتړ په موخه يو معياري او مجهز روغتون جوړ کړي، څو افغانانو ته په ښه ډول روغتيايي خدمتونه وړاندې شي.

وروپسې د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د جنوبي افريقا پانګوالو، علماوو او د روغتيــا برخې متخصصينو ته د هــر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ او ويې ويل، چې اوسمهال په افغانستان کې د پانګونې لپاره ښــه زمينه برابره شوې او ټول کورني او بهــرني پانګوال کــولای شي لــه دې فرصت څخه استفاده وکړي.

---

# افغانستان به په نېږدې راتلونکي کې تر ټولو نږدې لارې پر مټ له اروپا سره وصل شي

د لاجوردو لاره يوه ســوداګريزه او ترانسپورټي لاره ده، چې د افغانســتان د فارياب او هرات ولايتونو له آقينې او تــور غونډۍ بندرونو څخه پيلېږي، د ترکمنســتان د ترکمن‌باشي بندر ته رســېږي، بيا د کاسپين سمندرګي څخه په تېرېدو د آذربايجان باکو ته ځان رســوي او د ګرجستان د تبليسي ښــار څخه په تېرېدو ترکيې او له هغه ځايه اروپا ته لار پيدا کوي.

د لاجــوردو لاره يو له هغو مهمو پــروژو څخه ده، چې په ســيمه کې د افغانســتان د وصل لپاره مهم پرمختګ، د سوداګريزو او ترانزيټي لارو متنوع کېدو او پر دې سربېره به افغانســتان د سويلي، منځنۍ اســيا او منځني ختيځ مارکېټونو د نښلولو په برخه کې خپل اقتصادي راتلونکی لا ډاډمن کړي.

د لاجوردو لاره نه يوازې دا چې په خپله يوه مهمه پروژه ده، بلکې له يو شمېر نورو سيمه‌ييزو پروژو سره هم همغږې ده او د ښکېلو هېوادونو اقتصادي – سياسي ګټې تامينولای شي.

د دغې لارې په اوږدو کې له بېلابېلو ځمکنيو او ســمندري ترانسپورټي وسايلو څخه استفاده کېږي.

د لاجوردو لار د افغانســتان د صادراتو او وارداتو لپاره تر ټولو ښه بديله سوداګريزه لار ده. د دې لارې په اوږدو کې پراته هېوادونه د افغانســتان د مهمو صادراتي توکو لکه وچې ميوې، طبي بوټو او کاني توکو لپاره ښــه مارکېټونه لري. پر دې سربېره به افغانســتان له دې لارې وکولای شي خپل صادرات اروپايي مارکېټونو ته هم په کم وخت، لږ لګښــت او مصؤن ډول ورسوي. دغه راز به افغانستان وکولای شي د خپلې اړتيا وړ وارداتي توکي د دې لارې په مسير کې له پرتو او اروپايي هېوادونو څخه په کم وخت، لږ لګښت او خوندي ډول هېواد ته وارد کړي.

د لاجوردو لارې شريک هېوادونه هــم لېوالتيا لري چې افغانســتان لــه دې لارې عملاً اســتفاده پيل کړي، پر همدې اساس اســلامي امارت هم د خپل اقتصاد محوره بهرني سياست له مخې غواړي چې افغانستان د لاجوردو لارې برخه وګرځوي.





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او ټـولنیزو مسایلـو په برخـه کـې
د ریاسـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

آبادي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی





# د دوحې درېیمه غونډه؛

## ارزښت او په‌کې شویو پرمختګونو ته کتنه


لیکوال: امان‌الله حنیفي


## سریزه

قطر د جـون په ۳۰مه او د جولای پـه لومړۍ نېټه د افغانسـتان پـه اړه د ملګرو ملتونو، سـیمې او نړۍ د شـاوخوا ۲۵ هېوادونو او پنځو نړیوالو بنسټونو د استازو د دوحې غونډې شـاهد و. د غونډې لـه پیل وړاندې ملګـرو ملتونو چې د دې غونـډې کوربه‌توب یې هم پر غاړه درلود، وویل د دوحې درېیمې غونډې مهمه موخه دا ده چې افغانسـتان له نړیوالـې ټولنې سره یو ځای کړي او له اسـلامي امارت سره د تعامل لپاره د سیمې او مهمو هېوادونو تر منځ همغږي پیدا کړي.

د افغانسـتان پـه اړه د دوحـې لومـړۍ غونډه کې د اسـلامي امارت پلاوي ته د ګډون بلنـه نه وه ورکړل شـوې. په دوهمه غونډه کې د ګډون بلنه ورکړل شوه، خو اسلامي امارت یې د اجندا او د غونډې د ترکیب په اړه د ملاحظاتو درلودو لـه امله ګډون پکې ونه کړ او له خپل اسـتازي پرته یې د افغانسـتان په اړه دا ډول غونډې بې پایلې وبللـې. د لومړۍ او دوهمې غونډې برعکـس ملګرو ملتونـو د دوحې درېیمـه غونډه کې بیاځلې اسلامي امارت ته د ګډون بلنه ورکړه او د اجندا د ترتیـب او د غونډې د ماهیت په برخه کې یې د دوی غوښتنې ومنلې.

له همدې سره سم اسـلامي امارت د ذبیح‌الله مجاهد په مشرۍ خپل شـپږ کسیز پلاوی د دوحـې درېیمه غونـډه کې د ګډون په موخه قطـر ته ولېږه، چې هلته یې تر غونډې وړاندې او وروسـته د سـیمې د یوشمېر هېوادونو له اسـتازو سره وکتل. د دوحې درېیمه غونډه کې پر څه بحث وشو؟ اسلامي امارت خپل درېځ څنګه وړاندې کړ او له نړیوالو یې کومې غوښتنې درلودې؟ د افغانسـتان په اړه د سیمې او نړۍ هېوادونو نظر څه و؟ د دې غونډې په څنډه کې د کومو هېوادونو له اسـتازو سره په څه بحث وشو؟ موږ په دې مقاله کې په همدې موضوعاتو لنډې خبرې کوو.

## د دوحې درېیمې غونډې موخه

دا دوه ورځنۍ غونډه د تړلو دروازو تر شا د افغانستان د وضعیت په تړاو د ۲۵ هېوادونو او پنځو نړیوالو بنسټونو د اسـتازو په حضور کې د تېرې یکشنبې او دوشنبې په ورځـو ترسره شـوه. ملګـرو ملتونو د غونـډې له پیل مخکې رسنیو ته وویل، د دوحې درېیمې غونډې اصلي موخه دا ده چې افغانسـتان لـه نړیوالې ټولنې سره یو ځای کړي او له اسـلامي امـارت سره د تعامل لپاره د سـیمې او مهمو هېوادونو تر منځ همغږي پیدا کړي. د یادې غونډې د اجندا اصلي موضوعات د افغانسـتان د خصوصي سـکتور ملاتړ، په مالي او بانکي برخو کې د بندیزونـو لرې کـول او همدارنګه د نشـه‌یي توکو پر وړانـدې مبارزه او بزګرانو ته د بدیل معیشـت وړاندې کولـو په برخه کې له افغانسـتان سره د ملګرو ملتونو، نړیوالو بنسـټونو او سیمې د مهمو هېوادونو همکاري او ګډ کار کول دي.

## د دوحې درېیمې غونډې په څنډه کې د اسلامي امارت د پلاوي لیدنې

قطر کې د اسـلامي امارت د سیاسي دفتر مشر سهیل شاهین رسـنیو ته وویل، د اسـلامي امارت پلاوي د دوحې د درېیمې غونډې په څنډه کې د قطر، سـعودي عربسـتان، ازبکسـتان، قزاقسـتان، اندونیزیـا، د اسـلامي همکاریو سـازمان، روسـیې، چیـن، هند، برېتانیا، ملګرو ملتونو، ناروې او هالنډ له اسـتازو سره کتلي دي. شـاهین زیاته کړې چې په دغو کتنو کې د دوه اړخیزو او څو اړخیزو مسـایلو پـه ځانګړې توګه د افغانسـتان او یادو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو اړیکو پر پراختیا او همدارنګه د ډیپلوماتیکو اړیکو پر سـاتلو او قوي کېدلو باندې بحثونه شوي، چې په خبره یې یاد هېوادونه د افغانستان په اړه رغنده او مثبت نظر لري .

## د غونډې لومړۍ ورځ

د دوحـې د درېیمې غونډې لومړۍ ورځ د یکشـنبې ماښام په سـیاسي چارو او د سـولې په برخه کې د ملګـرو ملتونـو د سرمنـشي د مرسـتیالې رزمـارې ډیکارلـو پـه وینا پیل شـوه. آغلـې ډیکارلو چې د افغانسـتان په اړه د دوحې د درېیمې غونډې مشري یې کوله، د غونډې د لومړۍ ورځې له خبرو وروسـته پر خپله ټویټر پاڼه ولیکل، چې د افغانسـتان لپاره د

سیمې او نړۍ مهمو هېوادونو د ځانګړو استازو دربیمه ناسته ګټوره پیل شوه.

د دغه غونډې په لومړۍ ورځ د اسلامي امارت د پلاوي مشر ذبیح‌الله مجاهد هم وینا وکړه. د اسلامي امارت ویاند د خپلو خبرو پر مهال له نړیوالو وغوښتل چې پر افغانستان لګول شوي بندیزونه لرې کړي.

ښاغلي مجاهد زیاته کړه چې افغانانو ته د یو اړخیزو او څو اړخیزو بندیزونو له لارې ستونزې پیدا کېږي او د حکومت او خصوصي سکټور پر وړاندې یې خنډونه جوړېږي. نوموړي د خپلې وینا پر مهال ټینګار وکړ چې له ډیپلوماتیکو لارو څخه باید د نظرونو تفاوت ته د تقابل پر ځای د تعامل او تفاهم لارې ومونډل شي.

د دغه غونډې پر مهال اسلامي امارت په ډېر واضح ډول نړۍ ته وویل، چې بندیزونه او له مختلفو لورو بېلابېل فشارونه کارنده لار نه ده؛ ځکه اسلامي امارت د ټولو بندیزونو باوجود بیا هم د کوکنارو پر کښت، پروسس او قاچاق بندیز ولګاوه او په خپل هیواد کې یې د کوکنارو د کښت کچه صفر ته نږدې کړې ده.

د دغه فرصت له لارې نړیوالو ته پیغام ورکړل شو چې پر خپلو پښو ولاړ افغانستان د ټولې سیمې او نړۍ په ګټه دی او پکار ده چې له اسلامي امارت سره رښتینې او مثبت تعامل وشي. د یو باثباته افغانستان لپاره باید د امریکا له لوري د دغه هېواد کنګل شوې شتمنۍ ازاده شي، په انکشافي برخو کې مرستې او همکارۍ زیاتې شي او په ټوله کې د یو پر ځان بسیا افغانستان لپاره باید د دغه هېواد اوسنی حکومت او ملت آزاد پرېښودل شي، څو له محدودیت پرته له خپلو ټولو ظرفیتونو څخه ګټه واخلي.

د اسلامي امارت ویاند د دوحې دربیمې غونډې ته د وینا پر مهال دا هم وویل، د سیمې له هېوادونو سره په ګډو برخو کې د افغانستان اسلامي امارت د اړیکو پراختیا ثابتوي چې د افغانستان حکومت د اړیکو د پراختیا اراده او ظرفیت لري. په ورته ډول د نړۍ نور هېوادونه په تېره بیا غربي هېوادونه هم کولای شي د سیمې د هېوادونو په څېر د افغانستان له حکومت سره په یوه واقعبینانه عملي تعامل کې د اړیکو د پراختیا په لار کې خنډونه لرې کړي او مثبت تعامل ته را وړاندې شي.

د غونډې د لومړۍ ورځې په پای کې د افغانستان اسلامي امارت ویاند او د افغان پلاوي مشر ذبیح الله مجاهد دوحه کې رسنیو ته وویل، چې د دوحې ناستې ټولو ګډونوالو هېوادونو استازو افغانستان سره د همکارۍ ژمنه وکړه او د افغانستان په اړه د دوی ذهنیت مثبت لوري ته تغییر کړی او هغوی د اسلامي امارت خلاف د هیڅ نظامي اړخ او جهت ملاتړ او همکاري نه کوي، چې دا ذهنیت ترلاسه کول یوه لویه لاسته راوړنه بللی شو.




## د غونډې دوهمه ورځ

د غونډې دوهمه ورځ هم د ټولو ګډونوالو په حضور کې پیل شوه. په دې ورځ د اسلامي امارت پلاوي دوه جلا جلا پریزنټېشنونه وړاندې کړل. لومړی پریزنټېشن د خصوصي سکټور د حمایت لپاره د صنعت او سوداګرۍ وزارت او افغانستان بانک له لوري او دوهم هغه د نشه‌یي توکو د مخنیوي او د بدیل معیشت د وړاندې کولو لپاره د کورنیو چارو وزارت استازو له لوري وړاندې شول.

د دوهمې ورځې د مجلس پر مهال ټولو ګډونوالو ته د افغانستان اسلامي امارت پیغامونه په ډېر واضح ډول ورسول شول او هغوی په افغانستان کې له راغلو پرمختګونو او عیني واقعیتونو څخه خبر شول. دا د افغانستان په اړه د نړۍ د تصور بدلولو په برخه کې یو ډېر ښه فرصت و، چې اسلامي امارت ترې په ښه ډول استفاده وکړه. اسلامي امارت د خصوصي سکټور سره د همکارۍ او د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې او بدیل معیشت په برخه کې د هېوادونو د همکارۍ غوښتنه وکړه، چې اکثره هېوادونو په دې برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه .

د غونډې دوهمه ورځ په بریالۍ توګه پای ته ورسېده، چې ګډونوال یې هم ترې خوښ او له افغانستان سره یې د لا ښه تعامل په برخه کې دا برابر شوی فرصت ارزښتناک وباله.

په سولې او سیاسي چارو کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیالې روزماري دیکارلو هم چې د دې ناستې مشري یې کوله، د پای په خبري کنفرانس کې وویل، هیله‌منه ده چې له اسلامي امارت سره د ترسره شویو خبرو او تعامل له لارې به په مختلفو برخو کې پرمختګونه راشي .



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه آبادي
هفته نامه آبادی


## پایله

د دوحــې دريیمــه غونډه له افغانســتان سره د نړۍ د تعامل او نړۍ ته د افغانســتان د واقعي تصوير وړاندې کول يو ښــه فرصت و. د دې غونډې له لارې نړۍ ته په مستقيم ډول د افغانســتان اسلامي امارت پيغامونه ورســېدل او هغــوی پـــه افغانســتان کې لـــه راغلو پرمختګونو خبر شــول. د دې ترڅنګ په يوشمېر برخو کې د هغوی همکاري وغوښتل شوه چې د ګډونوالو له لوري يې د عمل ژمنه وشوه.

دا لومړی ځل و چې د اســلامي امارت او ملګرو ملتونو اســتازي د افغانستان د وضعيت په اړه مخامخ تفصيلي بحث کوي. دا به په راتلونکې کې په نورو برخو کې هم دوه اړخيــز تعامل او بحث ته زمينــه برابره کړي، چې ګټه به يې دواړو لورو ته حتمي وي.

د دې غونډې له لارې د ملګرو ملتونو او نړۍ ډېرو هغو اندېښنــو تـــه چــې دوی د افغانســتان لـــه خاورې محسوســولې، ډاډ ورکړل شو او هغوی ته واضح شوه، چې افغانســتان اوســمهال يو پياوړی خپلواک مرکزي حکومــت لري، چې له خاورې به يې هېچا ته زيان ونه رسېږي.


د دې غونــډې پر مهـــال نړۍ پر دې قانع شــوه چې بنديزونــه د حـــل لار نـــه ده، هرڅه بايـــد د خبرو او ډيپلوماتيکـــو لارو حل شي او د موجودو ســتونزو لپاره بايد په ګډه کار وشي. د همدې غونډې پر مهال ډېرى هېوادونو د افغانستان له درېځ څخه ملاتړ وکړ، چې دا افغانســـتان ته د نړۍ د پام اړولو په برخه کې بله لاسته راوړنه بللی شو.

د دې غونـــډې په څنډو کـــې د يوشــمېر هېوادونو له ځانګړو اســتازو سره هم لیده کاته وشول، چې تولو يې لـــه افغانســتان سره د ډيپلوماتيکو اړيکو ســاتلو او په مختلفـــو برخو کې دوه اړخيزو او څو اړخيزو همکاريو ته لېوالتيا وښوده.



## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانی پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | امريکايي ډالر | ۷۱,۲۰؋ | ۷۱,۲۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲٤٥ | ۲٤٦؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۲۹؋ | ۱,۲۹؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷٦,۳۱؋ | ۷٦,۳۷؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۸۱؋ | ۰,۸۱؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۵۳؋ | ۸۵۳؋ |
| ۱ | انګليسي پوند | ۸۹,۹٤؋ | ۹۰,۰۱؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,۹۸؋ | ۱۸,۹۹؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۳۸؋ | ۱۹,٤۰؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۷۹؋ | ۹,۸۰؋ |

